مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۲۰۲۱ / ۱۱ / ۲۸

# څلوريځې

**ويښتيا**
مخکې تر دې چې خپل ولسونه ويښ کړو
پکار دي دا چې خپل ځانونه ويښ کړو
ويده به هيڅوخت بل ويده ويښ نکړي
راځئ چې خپل مړه وجدانونه ويښ کړو

**خبرې**
پريږده د پلار، نيکه ابا خبرې
يا په ځانګو د مور او نيا خبرې
خپله يي زده کړه بې د بل له ملتيا
د زماني د اقتضا خبرې

**اتکا**
د تاريخ په ميړنو اتکا مه کړه
پند ترې واخله اضافه يي پروا مه کړه
زمانه در نه د ځان ميړنتوب غواړي
وخت د تيرو په ستايلو قضا مه کړه

**روښانتيا**
د هيڅا په لاربنودنه[۱] دې پل مه ږده
پل په خپله اراده، پخپل تکل ږده
ماشومتوب د کمزورۍ وختونه هيرکړه
د لويتوب د اقتضا سره دې پل ږده

**تګلار**
شر او فتنې به ادامه ولري
څو چې شر ګډي شرنامه ولري
د ولس ويښتيا په يوه ورځې نشي
دا به کلونه برنامه ولري

**يادونه:**
[۱] ښودل او ښوول بايد سره مغالطه نه شي. ښودل د نشان دادن په معنی او ښوول د فهماندن په معنی دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ